(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لمانځه تر آداء مخکې کوم شیان په یاد ولرم؟

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ: ★ تر لمانځه مخکې په یاد ولرئ چې تاسو باید اودس ولرئ.(۴۳) ستاسو کالي(۴۴) او د لمانځه ځای باید پاک وي.(۴۵) ستاسو مخ باید د قبلې خوا ته وي.(۴۶) او نظر د سجدې پر ځای وي.(۴۷) ستا د پښو ګوتې هم باید د قبلې طرف ته وي او دواړې پښې سیده د قبلې طرف ته کړه.(۴۸) (پښې راسته او چپه خوا ته کږول د سنت خلاف دي) ★ د دواړو پښو تر منځ باید د څلورو ګوتو په اندزه فاصله وي.(۴۹) که لمونځ په جماعت وي نو باید په صف کې سیده ودرېږئ.(۵۰) د صف د سیده کولو ښه طریقه دا ده چې هر یو خپلي پوندي د صف پر سر یا د صف د نښان پر آخري ښوکه کښیږدي. ★ په جماعت کې باید دې خبرې ته هم پام وسي چې راسته او چپه خواوو ته د ولاړو خلګو اوږې باید ستا د اوږو سره موښتي وي او په منځ کې خالي ځای باید نه وي.(۵۱) پای جامه (پرتوګ) باید تر بجلکو کښته و نه ځړول سي او پام مو وي چې کالي تر بجلکو پورته وي.(۵۲) په داسي کالو کې باید لمونځ و نه سي چې په هغه کالو کې نورو خلګو ته نه ورځې لکه انګیا او داسي نور کالي ځکه چې دا د ادب خلاف کار دئ.

**تمرین:** د لمانځه په وخت کې ستاسو مخ باید کومې خوا ته وي؟ آیا په لمانځه کې یوې او بلې خوا ته کتل روا دي؟ د صف سیده کولو طریقه کومه ده؟ نوی صف باید د کوم ځای څخه شروع کړل سي؟ آیا کالي تر بجلکو کښته کول روا دي؟ آیا په داسي کالو کې لمونځ کول صحیح دئ په کومو کالو کې چې موږ د نورو خلګو مخ ته نه سو ورتلای؟ (دغه هر سوال او جواب لیکلای هم سئ) ماشومانو ته وواياست چې دا عمل په مثالي شکل ستاسو په وړاندې اداء کړې او که کوم ځای غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.

---

۴۳: المائده: ایت نمبر:۶.
۴۴: المدثر: ایت نمبر:۴.
۴۵: البقرة: ایت نمبر:۱۲۵ و فی سنن ابی داؤد: باب اتخاذ المساجدفی الدور، حدیث نمبر:۴۵۵-۴۵۶، ۱۰۳-۱۰۴مخونه.
۴۶: البقرة: ایت نمبر:۱۴۴.
۴۷: ولها آداب.... نظره الی موضع سجوده حال قیامه. (الدرالمختار:کتاب الصلاة، ۲ټوک، ۲۱۴مخ)
۴۸: صحیح البخاری: باب یستقبل باطراف رجلیه القبلة. باب نمبر ۱۳۱، ۱۳۱مخ.
۴۹: ردالمحتار: ۲ټوک، ۱۶۳مخ.
۵۰: صحیح المسلم: باب تسویة الصفوف وإقامتها وفضل الأول فالأول منها....، حدیث نمبر: ۹۷۲، ۱۸۲مخ.
۵۱: سنن ابی داؤد: باب تسویة الصفوف، حدیث نمبر: ۶۶۱،۱۴۳مخ.
۵۲: سنن ابی داؤد: باب ما جاء فی اسبال الازار، حدیث نمبر: ۴۰۸۶، ۸۰۹ مخ.


(c) ketabton.com: The Digital Library



# تکبیرِ تحریمه

أَللّٰهُ أَکْبَر (٦٠)

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ: په زړه کي نیت وکړئ چي زه فلانی لمونځ کوم، په ژبه د نیت الفاظ ویل ضروري نه دي ★ لاسونه تر غوږو پوري داسي پورته کړئ چي د ورغوي مخ د قبلې طرف ته وي او د بټو ګوتو سرونه د غوږو د سرو (نرمیو) سره وموښلي یا د هغو پر برابري سي ★ د پورتنۍ طریقې سره سم د لاس د پورته کولو سره أَللّٰهُ أَکْبَر و وایه.



**تمرین:** د ماشومانو څخه په مختلف ډول پوښتني وکړئ او جوابونه ئې ښه ورپیاد کړئ. مثلاً: تکبیر تحریمه څه ته ویل کیږي؟ د تکبیر تحریمه په وخت کي باید لاسونه څنګه پورته سي؟ لاسونه باید چیري ونیول سي؟ (دغه هر سوال او جواب لیکلای هم سئ)ماشومانو ته ووایاست چي دا عمل په مثالي شکل ستاسو په وړاندي اداء کړي او که کوم ځای غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.

[60]: سنن الترمذی: باب ما جاء ان مفتاح الصلاؤ الطهور، حدیث نمبر:٣-۴، ٢مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوس نو رکوع ښځګه اداء کړم

﴿رکوع ته د تګ په وخت کي [اَللّٰهُ اَكْبَرُ] ووايه﴾

[د رکوع په حالت دغه ووايه]

سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ(٦٩)

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ: خپله ملا تر داسي اندازې پوري کږه کړه چي ملا او اوږې سره يوه لاس سي، نه تر دې ډېره کږه او نه هم لږ.(٧٠) په رکوع کي غاړه دونه مه کږوئ چي سينې ته ورنژدې سي او مه ئې دونه لوړوئ چي غاړه تر ملا لوړه سي بلکه غاړه او شا بايد سره برابر وي.(٧١) لاسونه پر زنګنو داسي کښېږدئ چي د لاسو ګوتي خلاصي وي يعني د ګوتو تر منځ فاصله وي او همداسي راسته زنګون بايد په راسته لاس او چپه زنګون په چپه لاس ونيول سي.(٧٢) په رکوع کي بايد لاس او بازو داسي سيده وي چي هيڅ کږوالئ نه وي پکښې.(٧٣) لږ تر لږه رکوع دومره اوږده کړئ چي درې واره په ارامه سره سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ پکښې وويل سي.(٧٤) په رکوع کي بايد د پښو خوا ته وکتل سي.(٧٥)



**تمرين:** د ماشومانو ښځه په مختلف ډول پوښتني وکړئ او جوابونه ئې ښه ورپياد کړئ. مثلاً: رکوع څه ته وايي؟ په رکوع کي بايد سر، ملا او غاړه پر څه حال وي يعني ښځګه ونيول سي؟ په رکوع کي بايد لاسونه ښځګه کښېښوول سي؟ لږ تر لږه بايد رکوع څومره اوږده سي؟ په رکوع کي بايد چيري وکتل سي؟ (دغه هر سوال او جواب ليکلای هم سئ)ماشومانو ته وواياست چي دا عمل په مثالي شکل ستاسو په وړاندي اداء کړي او که کوم ځای غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.

---

٦٩: سنن ابی داؤد: باب ما يقول الرجل فی رکوعه وسجوده، حديث نمبر:٨٧٤/٨٧١/٨٦٩، ١٨٤- ١٨٥مخ.

٧٠:: سنن الترمذی: باب ما جاء فی من لا يقيم صلبه فی الرکوع والسجود، حديث نمبر:٢٦٥، ٧٣ مخ.

٧١: صحيح المسلم: باب ما يجمع صفة الصلاة وما يفتتح به ويختم به وصفة الرکوع، حديث نمبر:١١١٠ ، ٢٠٤مخ.

٧٢: سنن الترمذی: باب ما جاء أنه يجافي يديه عن جنبيه في الرکوع، حديث نمبر: ٧٢،٢٦٠مخ.

٧٣: سنن الترمذی: باب ما جاء أنه يجافی يديه عن جنبيه فی الرکوع، حديث نمبر: ٧٢،٢٦٠مخ.

٧٤: سنن الترمذی: باب ما جاء فی التسبيح فی الرکوع والسجود، حديث نمبر: ٢٦١،٧٢ مخ.

٧٥: ولها آداب.... نظره ........ وإلى ظهر قدميه حال رکوعه. (الدرالمختار:کتاب الصلاة، ٢توک، ٢١۴مخ)

